عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۱۰/۷

# خپلواکه نړی په افغانستان کي هم خپلواکه ده

خپلواکه نړی د هغه استعماري هيوادونو نوم دي چی د تاريخ په اوږدو کي یی د انسانيت په ضد بي شميره جرمونه کړي دي، خپلواکه نړی هغه نړی ده چی په وروسته پاتي هيوادونو کي خپل ارزښتونه په هر قيمت خپروي , خپلواکه نړي هغه نړي ده چي که څوک په مسالمت آميزه شکل د دوي ارزښتونو ته غاړه کي نږدي نو د الوتکو او توپونو اوبمونو په زور خپل ارزښتونو پلي کوي , خپلواکه نړي هغه نړی ده چی  د انسانيت په ضد دځمکه په مخ په وژنه او هر ډول جرم کي خلاص لاس لري , سپين ژيری – ښځي کوچنيان په بيرحمانه ډول وژني , خپلواکه نړي د نورو هيوادونو ترځمکه لاندي ثروتونه د خپل اقتصاد د پياوړتيا لپاره غارت کوي، خپلواکه نړی ولسونه له خپلو استوګن ځايونو څخه کوچوي لکه چی په فلسطين ويتنام- عراق- افغانستان .......کي.دا تګلاره پلي شوه ترڅو بي وطنه او بي پناه خلك پيدا کړي او بيا يی پالنه او روزنه په غاړه واخلي, په دښتوکی ورته کيږدی ودروي اود خپلی لويه موسسه « ملګري ملتونه » له خوا يی پالنه په غاړه واخلی ځکه چی خپلواکه نړی په بي وطنه او بي پناه خلکو زړه سوی لري، د خپلواکی نړی تاريخ له جرمونو ډك دي خو بيا هم په ځان باندی د خپلواکی نړی نوم ايږدي !! .

خپلواکه نړي اوس مهال په اسلامی نړی کی له خلکو څخه خپله خپلواکي اخلي تر چو په بدل کی ورته د لوديځ ديموکراسي ډالی کړي , هغه ديموکراسي چی له خلکو څخه فکري او روحي آزادي اخلی , هغه ديموکراسي چي په ټولنه کی له خپلو ارزښتونو سره سم ټولنيز پوهنيز او کلتوري مرکزونه جوړوي , او د ټولني قلمونه ورځپاڼي او رسني په خپله قبضه کی راوستل غواړي , او په ټولنه کي د يونسکو له لاری کار کوي.

که په افغانستان کی د خپلواکی نړی جرمونه او کرغيرنه تګلاره وڅيړو نو کيدي شي چی د ا مقاله ديره اوږده شي چی عادتا خلك اوږدی مقالي نه لولي , خو په مختصره توګه هغه اته کالونه چی افغانستان د لوديځ د ديموکراسی په کرغيرنه غيږ کي تير کړل دير د کړاو نه ډك او ځورونکي کالونه وو , پرته له بربادي څخه د افغانستان درديدلی ملت نورڅه ونه ليدل، شپه او ورځ د افغانستان په ملت باندي درانه درانه بمونه راوريږي، د خپلواکی نړی ځواکونه هر وخت چی وغواړي د خلکو کورونو ته ور ننوځي , او په بيرحمانه شکل د خلکو ژوند تهديدوي.

خو دا چګړيزه تګلاره دومره خطرناکه نده چی په افغانستان او نورو اسلامي هيوادونو کي په لاره اچول شوي ده , او دا دي هغه ستر پلان يو وړه برخه ده چي د استعمار دولتونو د اسلامي نړی په ضد برابر کړي ده , ځکه چی د ا جګړيزه تګلاره خود بخود د مقاومت احساس په خلکو کی را ژوندی کوي , څرنګه چی اشغالګر ځواکونه اوس مهال


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب  خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

په افغانستان عراق .....کي ور سره لاس گريوان دي , او هغه ولسي پاڅون را ژوندی کوي چی د يرغلگرو خوزښت نا شونی کوي.
د خپلواکی نړی ديره خطرناکه تګلاره هغه فکري او کلتوري يرغل دي چی غواړي د ټولنی فکري او ټولنيز بنسټونه د خپلی موخی لپاره استعمال کړي , او هغه مطبوعاتي وسايل په خپله ولکه کی راولي چی د ټولنی په جوړښت کی خورا د اهميت وړ دي، دامريکا دالر نن په دي رابطه په افغانستان کي دير کار کړی دي دير قلمونه او ورځپاني او رسني يي اخيستی دي , هغه خوبونه چی د ديموکراسي پلويانود افغانستان کړيدلی ملت لپاره ليدلي وو د اتو کالونو په اوږدو کي پرته له بربادی او وحشت څخه بل تعبير نلري .
خپلواکه نړی ولي په اسلامي هيوادونو او وروسته پاتی هيوادونو کي جګړيز کشمکش په لاره اچوي؟ سره لدي چی دا جګړيزه تګلاره يي له ستونزو سره مخ شوی ده , خو په دي تګلاره کی يوه خورا مهمه پايله نغښتی ده , طبيعي خبره ده چيرته چی جګړيز کشمکش وي له هغه هيواد څخه خلك مهاجر کيږي , او دا هم د يادونه وړده چی انسان د نفسي خواهشاتو په اساس د ژوند په اسنتياوو پسي لالهاند وي , او هغه د ماديت د ارتقا له امله چی کومي دروازی د بشريت په مخ په لوديځ کی خلاصی شوي , او له همدی امله د لوديځ ماده پرست تهذيب او تمدن کشش اوجاذبيت پيدا کړي , نو د ټولو مخه لوديځ ته شوي ده , زموږ د ټولنه پوهان – وتلي انجيران – وتلي داکتران ...... و توانمنده ځوانان ټول د لوديځ په پرمختګ کی مشغول دي او د غرب د پرمختيا لپاره کار کوی ځکه چی زموږ په ټولنه کی امنيت نشته , او زموږ او د اسلامی نړی امنيت هم همدغی خپلواکی نړي ګډوډ کړي دي , تر څو زموږ فکري توانای د دوي په ګټه مصروفه وي پځاي د دي چی په خپلواسلامي ارزښتونو فکر وکړو , او خپل هويت اوشناخت ولرو .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.